پوهاند بشیر احمد زکریا ۲۰۱۹/۰۵/۰۸

# د افغانستان دائمی بیطرفي

## خـبـرنیزه رساله

لیکوال: بشیر احمد زکریا – مترجم: رحمت آریا

**اوومه برخه**



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

## د مغولو ناتار

نامتو افغانستان پېژندونکی امریکایي لویس دوپرې وایي چې پر افغانستان باندې **د چنگیز خان** د لښکر هبوط د اوسمهال «اتومي بمبارد ته ورته» وو.[۱] دوپرې وایي که اتومي بمبونو د هیروشیما او ناګاساکي ښارونه له بیخه وران او له خاورو سره یو کړل خو بیا ودان سول مګر افغانستان هیڅکله ونــهٔ سوای کولای چې بلخ په خپل هماغــهٔ لرغون پرتم چې ام البلاد بلل کېـدهٔ بـېرته ودان کړي، دا هماغه ام البلاد وو چې نـېږدې یو میلیون وګړي او ستر بډای کتابتون ئـې درلود. ستر خان د بلخ نـېږدې یو میلیون وګړي ووژل او د بلخ ښار ئـې د ابد لپاره د خاورو په کنډوالو بدل کړ؛ هغه بلخ چې په خپلې لمن کې ئـې د نړۍ له هر ګوټ څخه هنر او هنرمندانو ته ځای ورکړی وو. د افغانستان د نورو وګړنیزو پرتمینو او ښکلیو ښارونو پاتې شونې لا تر اوسه هماغسې پراتــهٔ دي، د «کله میناړونو» مناړونه، په بامیانو کې د غلغلې «د ساندو او ویر» ښار د همدغو پاتې شونو بېلګې دي؛ کله چې باد ددغو ویرځپلو کنډوالو له منځه چې اوس په کانړو اوښتي په خپل محزون غږ تیرېږي، نو د هغـهٔ مهال د تأریخ له تپي زړهٔ څخه په وینو کې د لمبیدلو قربانیانو ساندې له ځان سره را اخلي او ازانګي ئـې د چم ګاونډ په غرنیو دَرو کې په داسې ویرجن انداز خپروي چې تـهٔ به وایې ټول نړېدلي ښارونه د غرونو له زړونو څخه د پېړیو غم په ساندو راپورته کوي او ساندې جوړوي او په ویرژړلي غږ وایي چې دا ښار یو مهال د خوښیو، سمسورتیا او رابښکون ښکلی ښار وو.

امریکایي لیکوال «ستیفن تـنر *Stephen Tanner* » په خپل کتاب کې د افغانستان د نظامي تأریخ په هکله «د مغولو د څپرکي» په برخې کې لیکلي، «د مغولو د ناتار له ورانکاره یرغل مخکې، استوګنو سیمو هیڅکله په دې کچه په خاورو او دوړو اړولو او ورانی چې د مغولو په ناتار کې په مرتب او منظم ډول ترسره سوې نــهٔ وې لیدلې، یوازې په شلمې پېړۍ کې ول چې له خاورو سره د ژوندانــهٔ او د بنسټونو د یو کولو لړۍ یو ځل بیا په لوی لاس تکرار سوه.» [۲]

---

۱ - Louis Dupree. Afghanistan.  Princeton University Press, ۱۹۷۳, ۱۹۷۸, ۱۹۸۰. Princeton, NJ.  ISBN ۰-٦۹۱-۰۳۰۰          & ۰-٦۹۱-۰۰۰۲۳-۹ pbk.

۲ - Tanner, Stephen.  Afghanistan; A Military History from Alexander the Great to the War Against Taliban. Da Capo press/Perseus Books Group; ۲۰۰۲ and revision ۲۰۰۹: Chapter “The Mongols”.  p. ۸۲



شر گډی چنگیز خان

د غلغلې یا ساندو ښار (بامیان)



کله چې د سلطان خوارزمشاه، دویم محمد غوږونو ته د چنګیز په لاس د بیجینګ Beijing د نیول کېدلو خبر ورسېد او پوه سو چې په مغولي لښکریانو کي دا باور خپور دی چې ګڼې چنګیز د «نړۍ سوبمن» کېږي نو دا ویره ورسره پیدا سوه چې ګڼې نوي راغلي یرغلګر ددۀ په ړنګولو پسې راروان دي! چنګیز خان تر دې دمه د منځنۍ آسیا د ښارونو د لاس غمي سمرقند او بخارا له خاورو سره یو کړي او په اور کې ئې سوځولي ول؛ د چنګیز خان تر مشرۍ لاندې یو شمیر مغولي لښکریان شمال لویدیځو سیمو ان د اوکرائین Ukraine تر وروستیو څنډو د کلکا د سیند تر غاړو پورې تر ۱۲۲۳ز کال پورې پرمختګ کړی وو. په خپله چنګیز خان د افغانستان په شمال کې د «تالیقانو Taliqan» له لارې چې د هرات او بلخ تر منځ یو پیاوړی لښکر کوټ وو

وړاندې راغی او په همدې ځای کې له خپل نامتو زوی تولي سره یو ځای سو؛ تولي خان د ققفاز او خراسان له نیولو وروسته راستون سوی وو؛ زوی او پلار دواړو پر افغانستان یرغل وکړ. د خوارزمشاه له ړنګولو وروسته، چنګیز خان د خوارزمشاه په پیاوړي او لایق زوی سلطان جلال الدین اکبر پسې افغانستان ته راغی؛ جلال الدین اکبر د غرنیو قومونو له منځه چې د سایتیانو، کوشانیانو، سپینو هونانو «ایپتلایتیانو Ephthalites»، تـرکي خـلجانو او ان د یوناني مهاجرو له احفادو څخه ول نوی جنګیالی ځواک جوړ کړی وو او څه دباندې شپیته زره کسیز ځواک ئـي راټول کړی وو. دواړه لښکر په پروان کې له یو بل سره مخامخ سول؛ جلال الدین غرنیو سیمو ته وخوت او خپل سپاره ئې پلي کړل، د غیشو ویشتونکو د غیشو باران چې د وریځو په شان وو وکولای سول د مغولي لښکر د لومړۍ کرښې مهاجمین چې د «کوتکو» تر بولنې لاندې ول په شا وتمبوي؛ د جلال الدین سپاره پر خپلو آسونو باندې سپارۀ سول او ضد حمله ئـې پیل او د «کوتکو» د مهاجم ځواک کینه ضلعه ئـې غافلګیره کړه چې په پایله کې مغولیان په تېښتـېدلو وابښو وانو د پروان له دَرې څخه په شا سول. د مغولي لښکر مهاجمین چې د وحشت له لاسه ورڅخه لاره ورکه وه د لوړو غرونو په ډبرو کې د افغان او تـورک قومونو له ویرې په داسې تنګ ځای کې ګیر راغلي ول چې یو پر بل باندې کواړۍ پراتـۀ ول. د نظامي چارو تأریخ لیکونکی تـنر *Tanner* لیکي، «د خوارزم پر وړاندې جګړې کې، پروان په جګړه کې د مغولیانو یوازینی ماته نــۀ بلکه له ختیځې آسیا څخه دباندې دا یوازینی ماته وه چې مغولیانو بیا تر اتیاو کالو راوروسته بله داسې ماته ونــۀ خوړه. چنګیز د یوۀ اویا زره کسیز لښکر په سر کې بامیانو ته راغی. د بامیانو ښار په مـېړانه خپله دفاع وکړه. کله چې چنګیز خان د ښار د پیاوړې کلا د شاو خوا دیوالونو ته د کټلو لپاره وتلې وو ددۀ ګران او زړۀ ته نـېږدې لمسی «مو، ایروکن» په یوۀ غیشي ووژل سو، چنګیز د یوې اونۍ کلا بندي پای ته ورسوله او د بامیانو ښار ئـي له یوې مخې دړې وړې کړ او په کنډوالو ئـي واړاوۀ او د بلا په خولې کې راګیر د بامیانو د ښار ټول ښاریان ئـي له توپیر پرته «د ښاریانو د ځارویو په ګډون» په ډېر فجیع ډول ووژل او امر ئـي وکړ چې هیڅ ژوندی موجود دې دلته ژوندی پاتې نــۀ سي. شهزادګي جلال الدین اکبر وکولای سول د سلیمان د غرونو له لارې د اندس دَرې ته تـېښتـه وکړي. چنګیز خان په بیړه او تلوار په جلال الدین پسې ودانګل او د اندس د سیند په اوږدو کې پنجاب کې ورسره لاس او ګریوان سو. د بلې ورځې سهار مهال وو او د سباوون د لمر لومړۍ وړانګه ځلـېدلې وه؛ چنګیز خان چې تر خپلې شا ئـي خپل زیرمه ځواک درلود د جګړې د ډګر پر منځتکي برید وکړ. کله چې چنګیز د جبهې د خط الرأس مخی ته نور سرتیري واچول او خپل جنرال «بیله نویان» ته ئـي امر وکړ چې په خپل ټول ځواک دې قدامي

یرغل پیل کړي، د جلال الدین تورک تبري بولندوی «تیمیر ملک» د چنګیز کیڼ اړخ په شا وتمباوۀ. په همدې شیبې کې جلال الدین په خپلې یرغلیزې ضد حملې د جګړې د ډګر د منځتکي پر لور وړاندې لاړ چې د مغولي لښکر په لومړۍ کربښه کې رخنه وکړي، څکه چې د «بیله نویان» سرتیرو د شا له لارې د خط الرأس په اوږدو کې ورباندې برید کړی وو. په کیڼ اړخ کې چنګیز خان په خپله بله تهاجمي ضد حمله پیل کړه. په دې توګه جلال الدین د دوه وو مغولي لښکرو په منځ کې راګیر سو، جلال الدین د خپلو لښکرو د ګڼه ګوڼې له منځه راووت، خپلې زغرې ئې وایستلې او خپل آس ئې په شدت وځغلاوۀ او ځان ئې د اندس د سیند یوۀ ګړنګ ته چې شل فیته لوړوالی ئې درلود ورساوۀ او له آس سره ئې یو ځای ځان سیند ته واچاوۀ. چنګیز خان چې د زړورتیا او تهور دې کچې ته لاس په غاښ سوی وو خپلو سرتیرو ته امر وکړ چې نور دې د سیند منځ ته غیشي نه اوروي. «تیمیر ملک» ډېر ژر ونیول سو او سر ئې له تنه پریک سو. جلال الدین چې د هرو مرو مرګ له منګو بچ سوی وو څو کاله وروسته بیا راڅرګند سو او بیا ئې جګړه پیل کړه. چنګیز خان په ۱۲۲۷ ز کال کې د طبیعي عوارضو له کبله مړ سو او ددۀ پراخه سترواکي د ددۀ د زامنو تر منځ وویشل سوه؛ د چنګیز مشر زوی «اګه دي» د ستر خان ځایناستی سو، «تولي خان» د آسیا شمال ختیځه برخه واخیستله؛ ختیځه آسیا او روسیه «بتو» ته ډالۍ سوه او د افغانستان په ګډون د خوارزم سترواکي، کاره او کیتای «ختن» «جغتای» ته ورکړل سوه. [۳]، [٤]

وروسته د **ګوډ تیمور** «۱۳۳۶ ــ ۱۴۰۵م» د واکمنۍ مهال ته راڅو؛ ګوډ تیمور د وزبیکستان په «شهر سبز» کې زېږېدلی دی چې د یوۀ ټیټ پوړي مغولي تاتاري سردار زوی وو؛ تیمور مدعي وو چې د ستر خان له پښته دی. ګوډ تیمور هم د چنګیز خان په شان د «ستر خان» په لقب یادېدۀ خو دۀ په خپله غوره ګڼله چې د «امیر کبیر» په نامـۀ دې یاد سي، نوموړي په دې ډول غوښتل ځانته اسلامي هویت غوره کړي. د ګوډ تیمور د سلطنتي تاج اینودلو مراسم په ۱۳۷۰ز کال کې د افغانستان په بلخ کې تر سره سول. ګوډ تیمور د خپل سلف چنګیز خان په پرتله پر یوې سترې او پراخې ستړواکۍ واکمني چلوله چې ماوراء النهر، تورکستان، افغانستان، فارس، سوریه، کوردستان، بغداد، جورجیا او تورکیه ددۀ د واکمنۍ تر غمي لاندې ول. ګوډ تیمور ان مسکو هم تر یوۀ کاله پورې ونیوۀ. تیمور غوښتل د چنګیز خان په شان چین هم ونیسي خو د لارې په اوږدو

---

[۳] - Ditto. Tanner, Stephen. Afghanistan Military History: ۲۰۰۹, p. ۹۵
[٤] - Ditto. Tanner, Stephen. Afghanistan Military History: ۲۰۰۹, p.۹۹

کې د سیر دریا او «اوتره» تر منځ لاره کې مړ سو. په زړهٔ پورې لا دا ده چې د ګوډ تیمور زوی «**بابر**» چې ان د افغانستان او هندوستان سترواک هم سوی وو د «شاه منصور» له لور «بي بي مبارکې» سره وادهٔ وکړ او دا وادهٔ ئــې ددې لپاره وکړ چې له افغانانو سره کورنۍ اړیکې ولري. بابر په خلکو مین وو، د افغانستان بېلابېل طبیعي مناظر او اقلیم وو چې بابر ئــې دې وصیت ته اړ کړی وو چې له مرګه وروسته دې په کابل کې ددهٔ په نامتو بڼ کې ښخ سي. تـنر لیکي، «په هندوستان کې د مغولي سلطنتي کورنۍ بنسټ اینودونکی بابر، واکمنۍ ته د رسـېدا له مهاله نیولې بیا د مرګ تر شـېبې پورې مجبور وو چې د افغانانو پر وړاندې خپلې تر ټولو سختې جګړې پر مخ یوسي.[۵]»

د اوومه برخه پای
نور بیا

د دی لیکنی د لمړی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_١.pdf
د دی لیکنی د دویمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٢.pdf
د دی لیکنی د دریمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٣.pdf
د دی لیکنی د څلورمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٤.pdf
د دی لیکنی د پنځمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٥.pdf
د دی لیکنی د شپږمی برخی د لوستلو د پاره پر لاندنی «لینک» باندی، «کلیک» کړی
http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٦.pdf

د افغانستان دائمی بیطرفی (اوومه برخه)
zekria_b_de_afgh_daayemi_betarafi_٧.pdf

[٥] - Ditto.  Tanner, Stephen.  Da Capro Press; Revision ٢٠٠٩: (The Rise of Afghanistan), p. ١٠٩.